# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| جانبازان | Martyrs |
|---|---|


نشریه پیشرو- شمارۀ ۵۲
۲۵ جولای ۲۰۱۷

## د انقلابی شاعر او د زیارکښو پرګنو اتل،
## د سیدال سخندان یاد پرتمین ساتو!

سیدال سخندان، د ځلورمي لسیزې انقلابی روښاند و. هغه د زیارکښو ولسونو ملاتړی و او خپل ژوند یې د ولسونو د ښیرازی، هوساینې او برابرۍ لپاره وقف کړی و. سیدال، د دې تر څنګ چې یو مخکښ ښوونکی و، ښه شاعر او ویاند و. هغه په شعر کې د کارګرانو، دهقانانو او تر ستم لاندې ولسونو هیلې، امیدونه او راتلونکی انځورو او تل یې کوښښ کاوه چې د شعر په مرسته د ستمځپلو طبقو اعتراض او مبارزه پیاوړی او غښتلي کړي.

سیدال سخندان، د یو ژمن او انقلابي روښنفکر په توګه څو عمده ځانګړني لرلی: لومړی هغه یو انقلابي ښوونکي و. هغه تل کوښښ کاوه چې د ښوونکي په توګه د تدریس تر څنګ د زیارکښانو ماشومان په انقلابي روحیه وروزي. هغه به د تدریس په ترڅ کې د واکمنو طبقو زبیناک او استثمار زده کوونکو ته په ساده ژبه تشریح کوو؛ دا به یې تشریح کاوه چې څنګه په ټولنه کې لږ شمیر کسان او کورنی شتمني او بدایه کیږي او د ټولنې ډیره برخه بیوزله پاتې کیږي او د بیوزلي څخه د ژغورنې لارې چارې به یې په عملي مثالونو او بیلګو زده کوونکو ته تشریح کولی.

د سیدال سخندان دویمه ځانګړنه، د ملتونو تر منځ پر یووالی او برابری باور و. سیدال سخندان چې په ملتی توکم، پښتون و؛ هیڅکله یې ځان په دې اړانه کې نه یوازې ایسار نکړ چې په کلکه توګه یې د دې ډول انحصار او په تیره بیا شوونیزم په ضد مبارزه کوله. د سیدال سخندان همدا ځانګړنه وه کله چې واکمن دولت هغه د بامیان یکاولنګ ولسوالی ته د معلمی لپاره تبدیل کړ، هغه نه یوازې وکړای شول چې بی له کومې اندیښنې کار ته دوام ورکړي، بلکه ډیر ژر د یکاولنګ د بزګرانو په زړه کې یې ځای پیدا کړ او له ځانګړي درناوي څخه برخمن شو.

د سیدال سخندان دریمه ځانګړنه، پیاوړی ویاندوي وه. هغه د مبارزو روښاندو په غورځنګ کې پیاوړی ویاند و. سیدال د کارګرانو او بزګرانو په ژبه وینا کوله، وینا یې په جوړجاړي ککړه نه وه، بلکې د طبقاتي منځپانګې سره مل وه. د هغه وینا او شعر د لاریونونو ګډونوال مبارزې ته هڅول او پر زیارکښه ولسونو یې خورا اغیزه کوله. سیدال، لکه ځینو لچنو روشنفکرانو په شان، هیڅکله نه غوښتل چې خپلې ویناوې په اصطلاحاتو مشبوع او ډکې کړي او داسې وینا وکړي چې ولسونو وربانديې پوه نشي، هغه د ولس ویاند و، د ولس لپاره یې د برابرۍ او آزادۍ فریاد وهو.

د دې انقلابي مبارز ځلورمه ځانګړنه، د شعر له وسلې څخه کار اخيستنه وه. سيدال، شعر د سينګارونو محل نه ګڼو، بلکې هغه چاړه يې ګڼله چې د غليمانو پر ورميږه تيريدله. د سيدال د شعرونو منځپانګه او مضمون، د کارګرانو او بزګرانو د خلاصون لپاره وو. هغه کارګرانو ته داسې پيام ورکاوه:

مست سيلاب شه، انقلاب شه، ارتجاع په تراره کړه

شابه شابه ای کارګره خپل ايمان غيرت ښکاره کړه

سيدال په دې ښه پوهيده چې د ستمځپلو د خلاصون اصلي مخکښان کارګران دي. هغه د کارګرانو په قوت او ځواک پوهيده؛ نو همدا دی چې دې بيوزلې طبقې ته د پيوستون، وحدت او سيلاب کيدلو پيام ورکوي، داسې سيلاب چې ارتجاع ړنګ کړي. سيدال د کارګرې طبقې تر څنګ هيڅکله بزګران او دهقانان له ياده ونه ويستل. هغه په دې باور درلود چې دهقانان د ارتجاع د ړنګولو لپاره د کارګرانو طبيعی او مطمئن متحدين دي. همدا دی چې بزګرانو ته يې پيام ورکاوه چې سره متحد شي او د کارګرانو سره يوځای ظالمان او لوټماران ورټي. هغه د فيوډالانو په ضد و، نو په شعر کې به يې په څرګند ډول ويل:

ستره ملاکه نور ستا ژغ په غاړه ورلی نشم

ستا د پښو لاندې ځپلې ژوند کولی نشم

د سيدال سخندان همدا انقلابي روحيه، د زيارکښانو سره د پيوستون روحيه او مخکښ اند و، چې اخوانيانو په راس کې يې مشهور خاين بنسټپال، ګلبدين، دا د زيارکښانو ربښتني استازی نور ونه زغمو او بالاخره يې دا مبارز ترور او له زيارکښانو يې واخيست. خو د سيدال سخندان لاره ادامه لري، فکر يې لاريون لري او ياد يې پرتمين او ځلانده دی.